جمهوری اسلامی افغـانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنیزو شکایتونو او اعتراضونو کړنلاره

دغه کړنلاره د افغانستان د ټاکنو دقانون د ۵۶مې مادې پربنسټ د ورکړل شویو واکونو له په پام کې نیولو سره د ټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا د بیلابیلو ټاکنیزو پروسو په بهیر کې د اعتراضونو او شکایتونو پورې د اړوندو چارو د تنظیم په موخه تصویب شوې ده.

## د تطبیق ساحه

لومړۍ ماده:

دغه کړنلاره په لاندینیو تولټاکنو کې په اعتراضونو اوشکایتونو پورې اړوندې چارې تنظیموي:

1. د جمهوري ریاست ټولټاکنې
2. د ولسي جرګې ټولټاکنې
3. دولایتي شوراګانو انتخابات او
4. د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې.

## د اعتراض او شکایت حق

دویمه ماده:

دغه افراد کولای شي د کاندیدانو په شرایط برابروالي باندې اعتراض وکړي اویا د دې کړنلارې په څلورمه ماده کې د یادو شویو سرغړونو په باب شکایت وليکي :

1. د رایو ورکولوپه شرایطو برابر ټول افراد
2. د سیاسي ګوندونو استازي، کاندیدان او مسؤل حکمي شخصیتونه

## اعتراض

دریمه ماده:

1. اعتراض د کمیسیون له لوري په ټاکل شوي وخت کې د کاندیدانو په لندمهال لست کې د یو شامل کاندید په شرایطو د نه برابروالي په اړوند د رسمي سند لیکل دي.
2. د کاندیدانو په لندمهال لست کې د شامل کاندید په شرایطو د نه برابروالي په اړه اعتراض د ټاکنیزو شکایتونود کمیسیون په نامه لیکل کیږي. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د دغه کمیسیون د کورنیو کړندودونو له په پام کې نیولو سره لیکل شوي اعتراضونه څیړي او له لست څخه د کاندید دلرې کولو د پریکړې په صورت کې کمیسیون په رسمي ډول دټاکل شوي مودې په بهیر کې په رسمي ډول خبروي.
3. د کاندیدانو د نهایي لست تر خپریدو وروسته د کاندید د وړتیا نشتوالي تر اعتراض لاندې نیول کیدای نشي.

## شکایت

څلورمه ماده:

1. اعتراضونه د ټاکنو د قانون په ۵۳ مه ماده او د کمیسیون له خوا په اټکل شویو کړندودونو او کړنلارو کې د اټکل شویو سرغړونو په اړه د رسمي سند له لیکلو څخه عبارت دی.
2. شکایت د پیښې له کیدو وروسته د 72 ساعتونو په بهیر کې باید په لیکلي ډول د ټاکنیزو شکایتونو په نامه ولیکل شي.

## د ټاکنیزو شکایتونو له کمیسیون سره همکاري

پنځمه ماده :

ټاکنیز کارکوونکي په مرکز او ولایتونو کې مکلف دي د اعتراضونو او شکایتونو د څېړنې په اړوند په قانوني موده کې د ټاکنیزو شکایتونو له کمیسیون سره همکاري وکړي.

## د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

شپږمه ماده:

د اعتراضونو او شکایتونو په څېړنې پورې نور اړوند موارد د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له لورې ددغه کمیسیون په کورنیو کړندودونو کې تنظیمیږي.

## انفاذ

اوومه ماده:

د غه کړنلاره د تصویب له نیټې وروسته څېره اونافذه ده.